# د اهلِ بیتو رضی اللہ عنہم د محبت

# برکتونه

**18 June 2026**



(For Islamic Brothers)

هفته وار ه د سنتونو ډکه اجتماع کښې کیدونکے

د سنتونو ډک بیان

پهٔ 18 جون، کال 2026ء (3 مُحَرَّم شریف، کال 1448ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اِجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د اهلِ بیتو رَضِیَ اللّٰہُ عَـنْہُم د محبت برکتونه

پهٔ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د اهلبیتو محبت فرض دے
- د اللہ پاک محبوب بنده جوړیدلو نصاب
- د عاشقان اهلِ بیتو جَنَّت ته د داخلیدو منظر
- د اهلِ بیتو رَضِیَ اللّٰہُ عَـنْہُم ربنتونے عاشق څوک؟

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ط وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله    وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله    وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

**د اخري نبي، مکي مَدَني صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:**

صَلُّوْا عَلَيَّ وَاجْتَهِدُوْا فِي الدُّعَاءِ وَقُوْلُوْا اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ

**ترجمه:** يعني په ما باندې دُرُودِ پاک راليږئ او په دُعا کښې ښۀ کوشش کوئ او وايئ: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ۔ (1)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** په دې حديثِ پاک کښې د درودِ پاک د لوستلو او په دُعا کښې د ښۀ کوشش کولو حکم راکړے شوے دے، د دې نه اندازه کيږي چې د دُعا او دُرُودِ پاک په خپل مينځ کښې ډير مضبوط تعلق دے، د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمان مبارک دے: دُعا د زمکې او د اسمان ترمينځه زوړنده وي، کله چې دُرُودِ پاک ولوستلے شي نو بَره پرواز اوکړي۔ (2)

---

1... نسائی، کتاب السهو، صفحه:221، حديث:1289۔

2... ترمذی، ابواب الوتر، باب ماجاء فی فضل...الخ، صفحه:145، حديث:486۔

علمائے کرام فرمائي: د دُعا مثال د يوې مرغۍ په شان دے او درودِ پاک د دې شَه پر (يعني د تيولو نه محفوظ وزر) دے، د دې په ذريعه دُعا د اسمانونو طرف ته پرواز کوي، د **اللّٰه** پاک بارګاه ته رسي او قبليږي۔[1] ځکه مونږ له پکار دي چې ډيرې دعاګانې کوو ولې چې دُعا ئخپله عبادت بلکې د عبادت مغز دے او د هرې دُعا په شروع او په اخره کښې دُرُودِ پاک هم لازمي لولو چې دا بهترينه وظيفه ده، د دې په برکت سره به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! دعاګانې قبليږي۔

| | |
|---|---|
| جو اپنے کاموں کا انجام نیک چاہتے ہو | ہر ایک کام میں تم پیش تر، درود پڑھو |
| نبی کے صدقے تمہاری مُراد ہو حاصل | دعا کے اوّل و آخر اگر درود پڑھو[2] |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب!　　صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په **حديثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے۔[3]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! په ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي۔ راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً ◈ د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ◈ په اَدب به کښينم ◈ ښهٔ په توجُّه به بيان اورم ◈ څهٔ چې واورم، د

1 …فضائلِ دعا، صفحه:69 مفصلاً۔

2 …نور ايمان، صفحه:57۔

3 … بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حديث:1۔

هغې به د یادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب!          صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د مُحَرَّم شریف د میاشتې فضیلت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مُحَرَّم شریف کومه چې د اِسلامي کال (*Islamic year*) وړومبۍ میاشت (*First month*) ده، اَلْحَمْدُلِلّٰه! شروع شوې ده، دې مقدسې میاشتې ته شَهرُ الله (یعنې د الله پاک میاشت) هم وئیلے شي او د دې دا نوم په حدیثِ پاک کښې اِرشاد شوے دے، په مُسنَدِ اِمامِ اَحمد کښې دي، یو ځل یو کَس دربار رسالت ته حاضر شو، عرض یې اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! د رمضان کریم نه علاوه په کومه میاشت کښې روژې ونیسم؟ وه یې فرمائیل: که د رمضان کریم (د فرض روژو نه علاوه نفلي) روژې نیول غواړې نو په مُحَرَّم الحَرام کښې یې ونیسه چې دا د الله پاک میاشت ده۔[1]

حضرت اَبُو عثمان نهدي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: صحابۀ کرامو عَلیھِمُ الرِّضوَان به د دریو عشرو ډیر تعظیم کولو: (1): د رَمضَان د میاشتې د اخرۍ عشرې (یعنې د آخرې 10 ورځو) (2-3): د ذُو الحِج او د مُحَرَّم شریف د وړومبۍ عشرې (یعنې د وړومبو 10 ورځو)۔[2]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږ له هم پکار دي چې د دې 30 ورځو (یعنې د رمضانِ

---

[1]...مسند امام احمد، جلد:1، صفحه:427، حدیث:1335۔

[2]...لطائف المعارف، وظائف شهر الله الحرام، المجلس الاول، الفصل الاول، صفحه:48 بتغییر قلیل۔

کریم د اخرو 10 ورځو، د ذُو الـحِج او د مُحَرَّم د ورومبو 10، 10 ورځو، د دې) ◈ ښه اِحترام اوکړو ◈ په دې کښې نیک کارونه اوکړو ◈ عِلمِ دِین زده کړو ◈ په خصوصي توګه په دې کښې د ګناهونو نه ځان بچ کړو ◈ نفلي روژې ونیسو ◈ نفلي عبادتونه هم اوکړو۔

اَلْحَمْدُلِلّٰه! شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د مُحرم شریف په ورومبو 10 ورځو کښې روزانه د شپې مَدَني مذاکره فرمائي (یعنې د سوالونو او جوابونو سلسله) کوي۔ دا مدني مذاکره په مدني چینل نیغ په نیغه (*Live*) ښودلے شي، تاسو هم په دې کښې شرکت کوئ! اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیم! عِلمِ دِین به زده کړئ، که ښه نیت وي نو د شپې د عبادت ثواب به میلاؤیږي او د دِین او د دُنیا خیرونه به هم نصیب کیږي۔

## د اهلِ بیتو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم محبت فرض دے

اللّٰه پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| قُلْ لَّاۤ اَسْــٴَـلُكُمْ عَلَیْهِ اَجْرًا اِلَّا الْمَوَدَّةَ فِی الْقُرْبٰىؕ وَ مَنْ یَّقْتَرِفْ حَسَنَةً نَّزِدْ لَهٗ فِیْهَا حُسْنًاؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ شَكُوْرٌ(۲۳) (پاره: 25، سورۂ الشُّوْرٰی: 23) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: ته وفرمایه: زهٔ په دې باندې تاسو نه څهٔ معاوضه نهٔ غواړم مګر د خپلوی محبت۔ |

علامه بغوي رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَیْه لیکلي دي: د دې آیت مبارک یوه معنیٰ دا ده چې (اے خلقو! زهٔ تاسو ته دِین ښایم، ستاسو د دُنیا او د اخرت خیرونه تاسو ته در رسووم) په دې باندې زهٔ ستاسو نه هیڅ قِسمه اَجر، څهٔ بدله نهٔ غواړم، البته! زهٔ [تاسو ته زما] د خپلولیٔ د محبت نصیحت کووم۔ د دې نه معلومه شوه چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره

محبت، د هغوئي د خپلوانو سره محبت د دِين د فرائضو نه دے۔ (1)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب!　　　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## يا الله پاکه! د دوئي سره محبت اوکړې

حضرت اُسَامَه بن زيد رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ عظيم صحابئ رسول دے، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ډېر محبوب او خوښ وو۔ پۀ حديث شريف کښې دي:

مَنْ کَانَ یُحِبُّ اللّٰہَ وَرَسُوْلَہٗ، فَلْیُحِبَّ اُسَامَۃَ

**ترجمه:** يعني څوک چې د الله او د رسول سره محبت کوي، پۀ هغه باندې لازم دي چې د اُسَامه سره محبت اوکړي۔(2)

اللہ کا مَحْبُوب بنے جو تمہیں چاہے　|　اس کا تو بیاں ہی نہیں کچھ تم جسے چاہو (3)

**ترمذي شريف** کوم چې د حديثِ پاک ډېر مشهور کتاب دے، پۀ دې کښې روايت دے، حضرت اُسَامه بن زيد رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: يو ځل شپه وه، ما ته څۀ حاجت راپېښ شو او زۀ د خپل هٰغه حاجت د پاره د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ خِدمت کښې حاضر شوم، محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما ته د ملاقات د

---

[1]…تفسیرِ بغوی، پارہ:25، الشوریٰ، زیرِ آیت:23، جلد:4، صفحہ:81، ملتقطًا۔

[2]…مصنف ابن شیبہ، کتاب الفضائل، باب ما جاء فی اسامۃ…الخ، جلد:7، صفحہ:532، حدیث:1۔

[3]…ذوقِ نعت، صفحہ:206۔

شرف عطا کولو د پاره بهر تشريف راوړلو، منظر څۀ داسې وو چې

وَهُوَ مُشْتَمِلٌ عَلٰى شَیْءٍ لَا اَدْرِیْ مَا هُوَ

**ترجمه:** هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څادر اچولے وو او پۀ هُغه څادر کښې دننه څۀ څيز وو کوم چې د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د وجود مبارک سره لګېدلے وو، هغه څۀ وو؟ ما ته معلومه نۀ وه-

خير! ما خپل حاجت عرض کړو، نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما حاجت پوره کړو- بيا ما عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! پۀ دې څادر کښې دننه څۀ دي؟ پۀ دې اورېدو خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څادر مبارک لرې کړو، څۀ ګورم چې دننه اِمامِ حَسَن او اِمامِ حُسَين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہما موجود دي- نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل:

هٰذَانِ ابْنَایَ وَابْنَا ابْنَتِیْ

**ترجمه:** دا زما ځامن يعنې زما د لور ځامن (او زما نمسي) دي-

بيا يــې وفرمائيل:

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اُحِبُّهُمَا فَاَحِبَّهُمَا وَاَحِبَّ مَنْ يُّحِبُّهُمَا

**ترجمه:** اے الله پاکه! بے شکه زۀ د دې دواړو سره محبت کووم، تۀ هم د دوئي سره محبت اوکړې او (د قيامته پورې) چې څوک د دوئي سره محبت کوي، هغه هم خپل محبوب جوړ کړې-(1)

---

1...ترمذی، ابواب المناقب عن رسول الله ، باب مناقب ابی محمد الحسن...الخ، صفحه:856، حدیث:3776۔

جو رسول والا ہے جو حسین والا ہے
خُود خُدا نے قرآن میں جابجا یہ فرمایا

باخُدا! وہ ہی بندہ بس خُدا کو پیارا ہے
جو ہے مُحَمَّد کا وہ ہی ہمارا ہے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د روايت نه مېلاؤيدونكي 2 سبقونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا كوم روايت چې ما اوس تاسو ته بيان كړو، د دې نه مېلاؤيدونكي 2 سبقونه عرض كووم:

## (1): د ماشومانو سره محبت او جسماني تړون

د دې روايت نه وړومبے سبق دا مېلاؤيږي چې د يو پلار په حيث زمونږ د ماشومانو سره تعلق څنګه پكار دے- يقيناً چې ټول مور او پلار د خپل اولاد سره محبت كوي، بے كچه مينه كوي خو د اولاد سره چې كومه مينه او جسماني تړون دے دا نن سبا كميږي ◈ والد صاحب د ګټې په فِكر كښې دومره مصروفه شي چې د ماشومانو په غيږه كښې د راخستو ورته هډو موقع نۀ مېلاؤيږي ◈ كوم چې غريبان دي، خواري مزدوري كوي، هغوئي ټوله ورځ په محنت خوارۍ ستړي شي، كور ته چې راشي نو ماشومان د هغۀ نه يو اړخ ته كړے شي چې بابا جان ستړے شوے دے، اوس دۀ ته څۀ مۀ وايئ، دۀ ته مۀ ورنزدې كيږئ، كه د محبت تنده لرونكي ماشومان د والد صاحب طرف ته ځي نو ټوله ورځ هغه په كار دومره ستړے شوے وي چې خوئي يې تريخ شوے وي، ماشومان رټلے

کيږي او شړلے کيږي ◈ او کوم چې مالداره خلق دي، کوم چې پۀ دفتر کښې د اے سي لاندې ناست وي او د سکون پۀ ماحول کښې کار کوي، اګر که هغوئي ستړي شوي نۀ وي خو د هغوئي کار د دماغو وي، ټوله ورځ يـې پۀ کار کولو دماغ ستړي شوي وي، بيا نن سبا چې زمونږ د دفتر کوم ماحول جوړ شوےدے، فلانکے افسر ورټلو، د فلانکي فائل مسئله جوړه شوه، بيا کور ته د راتللو نه پس هم د کار کوونکو فون راځي، پۀ داسې حالت کښې د ماشومانو سره د محبت او د جسماني تړون موقع نۀ مېلاؤيږي ◈ ماشومانو له د لوبو ښيزونه ورکولے شي ◈ د ماشومانو د پاره د خوراک ښښاک ښه اِنتظام کولے شي ◈ پۀ مياشت کښې يو ځل نيم د سيل د پاره هم بوتللے شي ◈ د دې نه علاوه ماشومانو له موبائل (***Mobile***) ورکړي، ويډيو ګيم (***Video game***) ورته ولګوي، پۀ لوئې ايل سي ډي (***LCD***) ورته کارټون (***Cartoon***) ولګوي او يو طرفته يـې کښېنوي۔

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا ډېره خطرناکه معامله ده، زمونږ د دې رويو پۀ وجه ◈ جنريشن ګيپ پيدا کيږي، د اولاد او مور او پلار ترمينځه لرې والے زياتيږي ◈ د دې سره د ماشومانو په ذِهن کښې وِيره کښېني، د تحفظ اِحساس يـې کم شي ◈ پۀ خپل ځان باندې اِعتماد پکښې کم شي ◈ پۀ طِبيعت (***Nature***) کښې يـې سخت والے پيدا شي ◈ تاسو به ليدلي وي چې زمونږ پۀ معاشره کښې څومره خلق بالکل د سخت طبيعت والا وي، د هغوئي پۀ مخ باندې مُسکا چرته کلونه پس راځي، د يو بل سره د مېلاؤيدو پۀ معامله کښې ډېر سخت وي، دا عام طور هُغه خلق وي کومو ته چې پۀ ماشوماتوب کښې د مور او پلار محبت او جسماني تړون نۀ مېلاؤيږي ◈ دا خبره ياده

ساتئ چې د ماشوم د پيدائش نه واخله د 5 نه د 7 کالو پورې چې کومه موده وي، دا د ماشوم د **جذباتي روزنې پالنې** (***Emotional Growth***) موده وي، په دې کښې ماشوم غلط او صحيح (***Right and wrong***) نۀ زده کوي، په دې موده کښې ماشوم جذبات زده کوي- په دې عمر کښې خو مونږ هغوئي ته د لوبو بے ساه څيزونه ورکړل، ګوډۍ، موټرې، موبائل مو ورله ورکړل ، بيا د هغه وخت د بے ساه څيزونو سره تيريږي، نو هغه به خپل انداز څنګه ښکاره کوي، هغه به خپل جذبات چا ته ښکاره کوي، خپل جذبات به چا ته څرګندوي؟ بابا جان د ګټې پۀ فِکر کښې وي، مور جانه د کور د کارونو نه نۀ وزګاريږي، ماشوم د بے ساه څيزونو سره لوئي کيږي- نتيجةً د ماشوم جذبات د تنګسيا ښکار کيږي، بيا چې هُغه ماشوم لوئي شي نو پۀ معاشره کښې څۀ لوئي او اهم کردار نشي ادا کولے- ځکه ◈ د خپلو بچو سره محبت او جسماني تړون ساتئ! ◈ هغوئي پۀ غيږ کښې راخلئ! ◈ هغوئي ښکلوئ! ◈ هغوئي پۀ اوګه کوئ! ◈ د هغوئي سره خبرې کوئ! ◈ د څۀ وخته پورې د هغوئي سره لوبې کوئ!

## د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکلې اداګانې

زۀ تاسو ته د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکلے ښکلے انداز عرض کووم: واورئ ◈ نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د حسنينِ کريمين رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهما خُلې ښکلولې ◈ د هغوئي ژبې مبارکې به يې ښکلولې ◈ نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به حسنينِ کريمن

رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہما بوئي کول او فرمائيل به يې: **هُمَا رَیْحَانَتِی** دا دواړه زما ګلونه دي۔[1]

علمائے کرام فرمائي: ماشومان ښکلول او بوئي کول سُنَّت دي۔[2] دا سُنَّت هم کله نا کله ادا کول پکار دي ◈ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به خپل زنګونان او لاسونه مبارک پۀ زمکه باندې اېښودل او د سورلۍ شکل به يې اِختيارولو او حسنينِ کريمين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہما به يې پۀ خپله ملا مبارکه باندې کښينول او زنګول به يې۔[3]

سُبْحٰنَ اللہ! خومره ښکلے انداز دے---!! تاسو سوچ اوکړئ! د دواړو جهانو سردار، پۀ مخلوق کښې د هغوئي نه د زيات شان والا هډو څوک شته نۀ، فرښتے چې د چا د ښپو د خاورو موندلو د پاره کرېږي، هٰغه خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپلو شهزادګانو د پاره څنګه څنګه اندازونه اِختياروي۔ سُبْحٰنَ اللہ!

## کله چې اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پۀ غیږه کښې ناست وو---!!

ښه: دلته بعضې وخت د ماشومانو سره پۀ محبت او جسماني ترون کښې **پاک والے** هم خنډ [يعني رکاوټ] جوړ شي۔ چې ماشوم به **څۀ** اوکړي، جامې به ګنده شي، پۀ دې وجه پۀ ماشومانو راختو کښې ويره محسوسيږي۔

زۀ تاسو ته يو روايت بيانووم۔ يو ځل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ

---

[1] ...مصنف ابن شيبه، کتاب الفضائل، باب ما جاء في الحسن والحسين...الخ، جلد:7، صفحه:514، حديث:17۔

[2] ...مرآة المناجيح، جلد:8، صفحه:478۔

[3] ...تاريخ مدينه دمشق، جلد:13، صفحه:217۔

وَسَلَّم د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُم سره تشریف فرما وو، په دې کښې اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ راغلو او د نیکه بابا جان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره یې لوبې او محبت شروع کړو، په لوبو لوبو کښې هغوئي د نیکه بابا جان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سینه مبارکه باندې کیناستو-

بیا چې په دې حالت کښې وړوکي شهزاده ته **څهٔ کول وو هغه یې اوکړل**- صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُم فرمائي: مونږ د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوا ته زر ورغلو چې شهزاده اوچت کړو خو نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: اِبْنِیْ اِبْنِیْ زما خوږ پریږدئ--!! چې څنګه دے، هم داسې یې پریږدئ--!!

د دې پورې چې کله وړوکے شهزاده د خپل حاجت نه فارغ شو، نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوبهٔ راوغوښتلې او خپلې جامې مبارکې یې وینځلې-(1)

## په نـمونځ کښې هم زړهٔ ساتنه لازمي ده

سُبْحٰنَ اللّٰہ! تاسو وګورئ چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د خپلو نمسو سره څومره محبت کولو- مونږ له هم د دې نه زدکړه پکار ده- اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْه فرمائي: د اولاد زړهٔ ساتنه په نـمونځ کښې هم کول د اولاد په حقونو کښې دي-(2)

یعنې چې کله بنده په کور کښې نـمونځ کوي نو ماشومان بعضې وخت راشي، کله په غیږه کښې کښیني، کله په ښپو باندې ځملي، کله څُله ښکلوي، د سجدې په حالت

---

[1]... الآحاد والمثانی لابن ابی عاصم، رقم:634، ابو لیلیٰ الانصاری، جلد:4، صفحه:170، حدیث:2151۔

[2]... فتاوی رضویه، جلد:24، صفحه:453 بتصرف۔

کښې پۀ ملا باندې کښيني، کله چې ماشومان د محبت نه داسې ډک حرکتونه کوي، اګر چې مونږه هٰغه وخت د **الله** پاک پۀ حُضُور کښې حاضر يو خو پۀ داسې حالت کښې هم ماشومان داسې حرکتونو ته پرېښودل، د هغوئي زړۀ ساتنه کول د اولاد پۀ حقونو کښې شامل دي- **الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## (2): د اهلِ بيتو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم د محبت اثر

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! پۀ شروع کښې چې مونږ کوم روايت واوريدو، ما عرض کړي وو چې د دې لاندې 2 سبقونه عرض کول دي، دويم سبق واورئ! خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حسنينِ کريمين رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما پۀ باره کښې دُعا اوکړه:

اَللّٰھُمَّ اِنِّیۡ اُحِبُّھُمَا فَاَحِبَّھُمَا وَاَحِبَّ مَنۡ یُّحِبُّھُمَا

ترجمه: اے **الله** پاکه! بے شکه زۀ د دې دواړو سره محبت کووم، تۀ هم د دوئي سره محبت اوکړې او (د قيامته پورې) چې څوک د دوئي سره محبت کوي، هغه هم خپل محبوب جوړ کړې-(1)

سُبۡحٰنَ اللہ! دا د اهلِ بيتو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم د محبت اثر دے، **الله** پاک پۀ هر څيز کښې يو اثر اېښودے دے: ◈ د اوبو اثر يخ وي ◈ د ډوډۍ ګرم وي ◈ د پئيو اثر يخ دے ◈ د

---

[1]...ترمذی، ابواب المناقب عن رسول الله، باب مناقب ابی محمد الحسن...الخ، صفحه:856، حديث:3776۔

بادامو اثر کرم دے ◈ وور سیزل کوي ◈ اوبۀ وور مړ کوي- د هر یو خیز یو اثر دے، دغه شان دا د اهلِ بیت پاک رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُم پۀ خاصیتونو کښې یو لوئې خاصیت دے چې د هغوئې محبت مسلمان **د اللّٰه** پاک **محبوب** جوړوي-

## د اللّٰه پاک د محبوب جوړېدو نصاب

پۀ **بُخاري شریف** کښې حدیثِ قُدسي دے، **اللّٰه** پاک فرمائي: زما د قُرب موندلو د ټولو نه بهترینه ذریعه د فرائضو ادا کول دي-

یعنې اِنسان چې نـمونځونه کوي، روژې نیسي، د مور او پلار خِدمت کوي، د سود د لین دین نه ځان ساتي، حلال خوري، حرامو ته هډو ګوري نۀ، او څومره چې فرائض دي، ټول پوره کوي، دې سره بنده ته د **اللّٰه** پاک قُرب نصیب کیږي-

نور فرمائي: اِنسان د نفلونو پۀ ذریعه مسلسل زما قُرب حاصلوي، حاصلوي، حَتّٰی اَحْبَبْتُہٗ تر دې پورې چې زۀ هٰغه بنده خپل محبوب جوړ کړم-(1)

دا ګویا چې **د اللّٰه** پاک **د محبوب** جوړېدو نصاب بیانولے کیږي، اِنسانه فرائض پوره کړي، بیا ورسره ورسره ډېر نفلونه کوي، پینځۀ واړه نـمونځونه خو کوي، تهجد هم کوي، اشراق، څاښت هم کوي، د اوابینو نفلونه هم کوي ◈ د رَمَضَانُ الْمُبَارَک روژې خو نیسي، ورسره ورسره نفلي روژې هم نیسي ◈ فرض حج خو یې کړے دے، بیا چې توفیق مېلاؤ شي نو نفلي حج هم کوي ◈ زکوٰة خو ورکوي، ورسره ورسره نفلي صدقې هم

---

1...بخاری، کتاب الرقاق، باب التواضع، صفحه:1597، حدیث:6502۔

کوي ◈ د خپل اولاد، مور او پلار وغیره پهٔ کومو چې خرچه کول فرض ده، پهٔ هغوئي خو یـې کوي، ورسره ورسره د نورو خیر خواهي هم کوي- داسې چې کله اِنسان فرائض او ډېر نفلونه کوي، کوي، تول کال پهٔ اِستقامت سره دا نصاب پوره کوي، بیا یـې چرته دا مرتبه نصیب کیږي چې **الله** پاک پهٔ خپل فضل او کرم سره هغه خپل محبوب جوړوي-

خو قربان شم! د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اهلِ بیتو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم څومره ښکلے شان دے، دا اثر کوم چې **الله** پاک پهٔ فرائضو او پهٔ نفلونو کښې اېښودے دے، هم دا اثر د اهلِ بیتِ پاک رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم پهٔ محبت کښې اېښودے شوے دے چې څوک د هغوئي سره محبت کوي، **الله** پاک هغه خپل محبوب جوړوي-

## درویشي څهٔ ته وئیلے شي---؟

شیخ اَمَان پاني پتي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه یو نیک بزرګ تیر شوے دے، هغوئي فرمائي: زما پهٔ نزد دَروَیشي د 2 څیزونو نوم دے: (1): ښه اَخلاق (2): د اهلِ بیتو [رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم] محبت-(1)

## د زړهٔ نه چې څوک پهٔ صحابهٔ کرامو او اهلِ بیتو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم باندې مئین وي

تیمور لنګ د تیموري سلطنت باني او وړومبے حکمران دے- شیخ زینُ الدِّین بغدادي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: تیمور لنګ پهٔ مرضُ المَوت (یعني هٰغه اخري بیماري د کومې پهٔ وجه چې هغوئي وفات شو، پهٔ هغې) کښې اخته وو، یوه ورځ د ډېر غم پهٔ وجه د هغه مخ تور شو، رنګ یـې بدل شو، څهٔ وخت پس یـې چې کله حالت ښه شو نو خلقو ورته حالات بیان کړل

---

[1]...اخبار الاخیار، شیخ امان پانی پتی، صفحه:241 ماخوذاً۔

چې د بيمارۍ د سختت والي په وجه ناڅاپه ستاسو مخ تور شوے وو، رنګ مو بدل شوے وو، په دې باندې تيمور لنګ ووئيل: ما د عذاب فرښتے وليدلې، هغه زما طرف ته راروانې شوې، د هغوئي په ليدو په ما باندې غم غلبه وکړه نو په دې وجه زما رنګ تور شو، بيا زر د اُمت غم خوار نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړلو او فرښتو ته يې وفرمائيل: دے پريږدئ ځکه چې دے زما د اولاد (يعنې د سيدانو) سره محبت کوي- په دې اوريدو فرښتے واپس لاړې-

علامه يوسُف بن اسماعيل نبهاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ليکلي دي: تيمور لنګ د وفات نه پس چا په خوب کښې وليدو چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف فرما دے او ورسره په خوا کښې تيمور لنګ هم ناست دے، خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوب ليدونکي ته وفرمائيل: اے محمد بن حَسَن! تيمور زما د اولاد سره محبت کوي- [1]

فضلِ ربّ سے دو جہاں میں کامیابی پائے گا
دِل سے جو شیدا ہوا اَصحاب و اٰلِ بیت کا

اے خُدائے مصطفٰے! ایمان پر ہو خاتمہ
مغفرت کر! واسطہ اَصحاب و اٰلِ بیت کا

جینا مرنا اُن کی الفت میں ہو یا ربّ! اور ہو
قربِ جنّت میں عطا اَصحاب و اٰلِ بیت کا[2]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... اَلشَّرَفُ الْمُؤَبَّد لاٰلِ محمد، مقصد الثالث، فصل جملة آثار و قصص...الخ، صفحه:102 ملتقطًا-

[2]... وسائلِ فردوس، صفحه:35-

## د اهلِ بیتو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم محبت اوچتې مرتبې ته ورسولو

حضرت ابو نصر بِشر بن حارث حافي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: یو ځل زما په خوب کښې د حضور نبي رحمت، شفیع اُمت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زیارت نصیب شو، نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما ته اِرشاد وفرمائیلو: اے بِشره! آیا تا ته معلومه ده چې **اللّٰه** پاک تا ته ستا د زمانې د اولیاؤ نه زیاته اوچته مرتبه ولې عطا کړه؟ ما عرض اوکړو: یا رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! ما ته نهٔ ده معلومه- نو نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد وفرمائیلو: ځکه چې تهٔ ◈ زما په سُنَّتو باندې روان یې ◈ د نیکانو خلقو خِدمت کوې ◈ د خپلو مسلمانانو وروڼو خیر خواهي (یعنې هغوئي ته نصیحت) کوې ◈ او (د ټولو نه ډیره اهمه خبره) زما د صحابهٔ کرامو او زما د اهلِ بیت اطهار (رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم) سره محبت کوې- دا هٰغه وجهې دي کومو چې تهٔ د نیکانو خلقو منزلونو ته رسولے یې- (1)

حُبِّ اہلِ بیت دے آلِ مُحَمَّد کے لئے | کر شہیدِ عشق حمزہ پیشوا کے واسطے

دوجہاں میں خادمِ آلِ رسول اللہ کر | حضرتِ آلِ رسولِ مقتدا کے واسطے (2)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د هٰغه وخته پورې مؤمِن نهٔ شي کیدے

سرکارِ نامدار، د دواړو جهانو مالک او مختار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: لَا یُؤْمِنُ عَبْدٌ

---

1 ...رساله قشیریه، باب فی ذکر مشایخ هذه الطریقه، ابو نصر بشر بن ...الخ، صفحه:31۔

2 ... حدائقِ بخشش، صفحه:150–151 ملتقطًا۔

حَتّٰی اَکُوْنَ اَحَبَّ اِلَیْہِ مِنْ نَفْسِہٖ یو بنده د هغه وخته پورې مؤمِن نشي کیدے تر څو چې زهٔ هغهٔ ته د هغهٔ د ځان نه زیات محبوب نشم- وَتَکُوْنَ عِتْرَتِیْ اَحَبَّ اِلَیْہِ مِنْ عِتْرَتِہٖ او زما ذات هغهٔ ته د خپل ذات نه زیات محبوب نشي- ،وَذَاتِیْ اَحَبَّ اِلَیْہِ مِنْ ذَاتِہٖ او زما اولاد هغهٔ ته د خپل اولاد نه محبوب نشي- وَیَکُوْنَ اَھْلِیْ اَحَبَّ اِلَیْہِ مِنْ اَھْلِہٖ او زما اهلِ بیت هغهٔ ته د خپل کور والؤ نه زیات خوښ او محبوب نشي- (1)

## د اهلِ بیتو محبت د عشقِ رسول نتیجه ده

د حضرت عبدالله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمَا نه روایت دے چې تاجدارِ مدینه، راحتِ قلب و سینه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَ آلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: اَحِبُّوا اللّٰہَ لِمَا یَغْذُوْکُمْ مِنْ نِعَمِہٖ یعني الله پاک سره محبت کوئ ځکه چې هغه تاسو ته نعمتونه عطا کوي، وَاَحِبُّوْنِیْ بِحُبِّ اللّٰہِ او د الله پاک د محبت په وجه زما سره محبت کوئ (ځکه چې زهٔ حبیبُ الله یم) وَاَحِبُّوْا اَھْلَ بَیْتِیْ لِحُبِّیْ او زما د محبت په وجه زما د اهلِ بیتو سره محبت ساتئ-(2)

حُبِّ سادات اے خدا! دے واسطہ　　　اہلِ بیتِ پاک کا فریاد ہے (3)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! معلومه شوه چې صحابهٔ کرامو او اهلِ بیتِ پاک سره

---

1 ... شعب الایمان، باب فی حب النبی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَ آلِہٖ وَسَلَّم ، فصل فی براۃ ...الخ، جلد:2، صفحه:189، حدیث:1505۔

2 ... ترمذی، ابواب المناقب عن رسول اللہ، مناقب اہل بیت النبی، صفحه:859، حدیث:3796۔

3 ... وسائلِ بخشش، صفحه:588۔

محبت ساتل د عشقِ رسول نتيجه ده، د مؤمن بنده پيژندګلو دا ده چې هغه **اللّٰه** پاک سره محبت کوي د هغهٔ په زړهٔ کښې د محبوبِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم محبت وي او په کوم زړهٔ کښې چې محبتِ رسول موجود وي، د هغې پيژندګلو دا ده چې هغه د صحابهٔ کرامو عليهمُ الرِّضْوَان سره هم محبت کوي او د اهلِ بيتِ پاک رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم سره هم محبت کوي- د دې ټولو تعلقونه مِلاوؤلو نتيجه دا راووتله چې د صحابهٔ کرامو او اهلِ بيتِ پاک محبت د مسلمان کيدو نخښه ده-

اَہلِ سُنّت کا ہے بیڑا پار اَصحابِ حضور | نجم ہیں اور ناؤ ہے عترت رسول اللہ کی(1)

**وضاحت**: يعني زمونږ عاشقانِ رسول بيړۍ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! په دنيا، قبر، قيامت، پل صِراط هر ځائے کښې پوريوتې ده ځکه چې د **اللّٰه** پاک په فضل سره مونږ د هدايت د ستورو يعني صحابهٔ کرامو عليهمُ الرِّضْوَان سره هم محبت کوو او د فتنو د طوفان نه بچ کوونکې کشتۍ يعني د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اَولاد سره هم محبت کوو-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اهلِ بيتو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم د عاشقانو جَنَّت ته د داخليدو نظاره

د اِمام عالي مقام، اِمام حُسَين رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے: يوه ورځ حضرت مولیٰ علي شيرِ خُدا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د مالکِ جَنَّت، قاسمِ نعمت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ خدمت کښې حاضر شو، نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: اے علي! هغه 4 کسان کوم چې به مخکښې جَنَّت ته ځي

1 …حدائقِ بخشش، صفحه:153۔

پۀ هغوئي كښې يو زۀ يم، يو تۀ يـې او 2 ستا ځامن حَسَن او حُسَين رَضِیَ اللهُ عَنْهُما دي، زمونږ اولاد به پۀ مونږ پسې وي او پۀ هغوئي پسې به زمونږ بيبياني وي- حضرت علي المُرتضیٰ، شيرِ خُدا رَضِیَ اللهُ عَنْهُ عرض اوكړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زمونږه ډله (يعني زمونږ سره محبت كوونكي) به چرته وي؟ وه يـې فرمائيل: ستاسو ډله به پۀ تاسو پسې شاته شاته جَنَّت ته ځي-(1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! څومره ښكلے شان دے---!! لږ تصور خو اوكړئ چې هغه به څومره ښكلې نظاره وي، زمونږ د ځان نه خوږ آقا، مكي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ، حضرت مولیٰ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ او حسنينِ كريمين رَضِیَ اللهُ عَنْهُما به پۀ يو ځائے جَنَّت ته داخليږي، پۀ دوئي پسې به شاته شاته ساداتِ كرام وي او كه الله پاک وغوښتل نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! مونږ د صحابۀ كرامو او اهلِ بيتو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم عاشقان به پۀ هغوئي پسې شاته شاته جَنَّت ته ورسيږو-

باغِ جنّت میں مُحَمَّد مسکراتے جائیں گے
پُھول رحمت کے جھڑیں گے، ہم اُٹھاتے جائیں گے

## د سَيّدانو صاحبانو يو څو آداب

د الله پاک پۀ نيكانو بندګانو كښې يو نوم د حضرت علي خوَّاص رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم دے، هغوئي ډېر د كمال وَلي وو، د سَيّدانو صاحبانو پۀ ادب به يـې ډېر زور راوړلو، فرمائي: د

---

[1]...تاریخ مدینہ دمشق، رقم:1566، حسین بن علی ابی طالب رَضِیَ اللهُ عنهما ، جلد:14، صفحہ:169۔

سَيِّدانو صاحبانو پهٔ حقونو كښې دا هم دي چې مونږ پهٔ هغوئي باندې خپل ځان قربان كړو ځكه چې دا د حُضُورِ اَكرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ځيګر ټوټې دي ◈ د سَيِّدانو صاحبانو پهٔ آدابو كښې دي چې د هغوئي پهٔ مخكښې ځان ته نهٔ ګورې (يعنې د هغوئي پهٔ مخكښې ډېره عاجزي اِختيار كړې، خپل ضرورتونه پهٔ هغوئي باندې قُربان كړې) ◈ ځان له پهٔ هغوئي باندې ترجيح ورنـكړې ◈ كه سَيِّد صاحب بې عِلمه هم وي، بيا دې هم د هغوئي ادب اوكړے شي ◈ حضرت علي خوَّاص رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه نور فرمائي: پهٔ خپلو خواهشاتو باندې د سَيِّدانو صاحبانو رضا له ترجيح وركوئ او د هغوئي پوره ادب كوئ او كله چې هغوئي پهٔ زمكه باندې ناست وي نو پهٔ كټ كښې هيڅكله هم مهٔ كښېنئ۔ [1]

## د اهلِ بيتو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم سره د بُغض لرونكو اَنجام

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** لكه څنګه چې د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اولاد سره د محبت كولو بے شميره فضيلتونه او بركتونه دي، هم داسې د هغوئي سره د بُغض او دښمنۍ لرلو هم ډېر سخت وعيدونه دي۔

## د اهلِ بيتو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم سره دښمني لرونكے دوزخي

د حضرت عبد الله بن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُما نه روايت دے، سركارِ ذيشان، مكي مدني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: كه يو كَس د كعبې شريفې او مقامِ ابراهيم ترمينځه نـمونځ اوكړي، هم هلته پاتې شي او روژې اونيسي، بيا هغه د اهلِ بيتو پهٔ دښمنۍ باندې مړ شي

---

[1]... تنوير الازهار ترجمه نور الابصار، جلد:1، صفحه:363 و 364 خلاصةً۔

نو هغه به دوزخ ته ځي- [1]

باغِ جنّت کے ہیں بہرِ مدح خوانِ اَہلِ بیت | تم کو مژدہ نار کا اے دُشمنانِ اَہلِ بیت [2]

**وضاحت:** څوک چې د اهلِ بيتِ پاک رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم سره محبت کوي، د هغوئي تعريفونه بيانوي، د هغوئي د پاره د جَنَّت باغونه دي او د اهلِ بيتو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم د دښمن د پاره د دوزخ وعيد دے-

## د اهلِ بيتو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم رښتونے عاشق څوک---؟

پۀ اخره کښې يو اهم وضاحت واورئ! مونږ ته د اهلِ بيتِ پاک رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم سره محبت کول دي خو د اهلِ بيتو رښتونے محبت څۀ ته وئيلے شي؟ پۀ دې هم ځان پوهه کړئ!

**روايت دے:** يوه ورځ حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ خطبه ورکوله، پۀ دې کښې اِمام عالي مقام امام حُسَين رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ تشريف راوړلو، حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ زر خطبه مکمل کړه او د منبر نه ښکته راکوز شو، بيا امام حُسَين رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ منبر ته تشريف يوړلو، هغوئي د **اللّٰه** پاک حمد او ثنا بيان کړله، بيا يې وفرمائيل: ما ته زما نيکه بابا ووئيل چې **اللّٰه** پاک فرمائي: د عرشِ اعظم د ښې لاندې د شين رنګ يوه تختۍ ده، پۀ هغې باندې ليکلے شوي دي: اے د آلِ محمد ډلې! پۀ تاسو کښې چې څوک هم د قيامت پۀ ورځ باندې د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه د ګواهۍ سره راځي، **اللّٰه** پاک به هغه جَنَّت ته داخلوي-

---

[1] ...معجمِ کبير، جلد:5، صفحه:319، حديث:11249-

[2] ...ذوقِ نعت، صفحه:100-

دا يـې چې واوريدل نو حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پوښتنه اوکړه: اے ابو عبد الله (يعني اِمام حُسَين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ)! د آلِ محمد ډله کومه يوه ده؟ وه يـې فرمائيل: هغه کومه چې شَيخَين يعني ابو بکـر او عمر ته، عثمانِ غني (رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم) ته، زما والدِ محترم مولیٰ علي (رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ) ته او اے معاويه! (رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ) تاسو ته رد بد نه وائي، هغه د آلِ محمد ډله ده-[1]

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې څوک د صحابهٔ کرامو عَلیہِمُ الرِّضْوَان هم ادب کوي، د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د څلورو يارانو ادب هم کوي او د خالُ الْمُؤمِنِين (يعني د ټولو مسلمانانو د ماما جان) حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خلاف هم خُله نهٔ برسيره کوي، هغه د اهلِ بيتو ريښتونے عاشق دے-

الله پاک دې مونږه د صحابهٔ کرامو او اهلِ بيتِ پاک رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم ادب کوونکـي، ريښتوني عاشقان جوړ کړي او د هغوئي د دښمنیٔ او ګستاخیٔ نه مو دې هميشه محفوظ وساتي-

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

محفوظ سَدا رکھنا شَہَا! بے ادبوں سے | اور مجھ سے بھی سرزد نہ کبھی بے ادبی ہو[2]

## د دعوتِ اِسلامي د يوې شعبې تعارف: شعبه اوقات الصلاة

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي د 80 نه د زياتو شعبو په ذريعه په ټوله دُنيا کښې د دِين په خِدمت کښې مصروف دے- په دغه

---

[1]… تاريخ ابن عساكر، رقم: 1566، حسين بن علی بن ابی طالب رَضِیَ اللهُ عنهما، جلد: 14، صفحه: 114۔

[2]… وسائلِ بخشش، صفحه: 315۔

شعبو کښې یوه اهمه شعبه **اوقاتُ الصلاة** هم ده-

**اَلْحَمْدُلِلّٰه!** د دې شعبې د اِنتظام لاندې د مسلمانانو د اسانۍ د پاره د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د تحقیق مطابق د ټولې دُنیا د بے شمېره ښارونو **د نـمونځونو د وختونو** او **د پېشمنې او د روژه ماتې نقشې** تیارې کړے شوې دي- کومې چې ◈ د مختلف سائز په کارډز ◈ چارټس ◈ او کتابي شکل کښې مېلاؤیږي-

◈ د دې سره سره یو نا اشنا سافت وئیر په نوم د (***Auqaat-us-Salaat***) او موبائل ایپلي کیشن په نوم د ***Prayer Times*** جوړ کړے شوي دي- د کومو په ذریعه چې په ټوله دُنیا کښې د هر یو ځائے د نـمونځونو وختونه او د قبلې اړخ معلومېدے شي ◈ د جُمعې په وخت د موبائل آټو سائلنټ کولو آپشن هم موجود دے ◈ د دې نه علاوه، د قرآنِ پاک د عربۍ متن او د ترجمې او تفسیر سره د لوستلو او د اورېدو اساني هم موجوده ده ◈ اذکار (روحاني علاجونه) پکښې هم ورکړے شوي دي ◈ د کاؤنټر تسبیح په ذریعه تاسو خپل د روزانه اَورَاد لوستلے شئ ◈ د دې ایپلي کیشن په ذریعه تاسو ریډیو مَدَني چینل اورېدے شئ ◈ د نـمونځ ذِکرونه هم د تجوید سره پکښې شامل کړے شوي دي ◈ د عیسوی او اِسلامي کلېنډر (***Calendar***) اساني پکښې هم موجوده ده ◈ د دې نه علاوه تاسو د دې ایپلي کیشن ډیش بورډ (***dashboard***) په 2 کلر تهیم (***Two Color Theme***) کښې اِستعمالولے شئ-

◈ نور **اَلْحَمْدُلِلّٰه!** د دې شعبې د اِنتظام لاندې یو داسې سافټ ویئر جوړ کړے شوے دے د کوم په ذریعه چې په جوماتونو کښې موجود په ډیجیټل کلاکس کښې د دې شعبې

د انتظام د لاندې د جوړ کړے شوي د نـمونځونو وختونه اِنستال کولے شي- تړول اِسلامي وروڼه دې د مکـتبة الـمدينه نه جاري شوي هٔغه د وختونو چاټس حاصل کړي د هغې زمونږ پهٔ کورونو او جوماتونو او د نـمونځ کولو پهٔ ځايونو کښې موجودتيا ډېره ضروري ده د پاره د دې چې مونږ د خپلو نـمونځونو پهٔ ښه طريقه حفاظت اوکړے شو- **اللّٰه** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِيۡن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ

## بهارِ شريعت موبائل ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اسلامي د جديد ټيکنالوجئ پهٔ ذريعه هم پهٔ مختلف انداز کښې د نيکئ دعوت پهٔ عام کولو کښې مصروف دے، دې لړ کښې اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډيپارټمنټ له خوا ډېر ښکلے، ځانګړے او ډېر فائده مند موبائل ايپلي کيشن د **بهارِ شريعت** (***Bahar e shariyat***) پهٔ نوم جاري کړے شوے دے ◈ د صدر الشّريعه، مولانا امجد علي اعظمي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د ډېر اعلیٰ کتاب **بهارِ شريعت** درې واړه جلدونه پهٔ دې ايپلي کيشن کښې شامل کړے شوي دي ◈ د دې نه علاوه پهٔ بهارِ شريعت کښې شامل د قرآنِ پاک آيتونه، حديثونه، اصطلاحات او لُغت د دې ايپلي کيشن حصه ده ◈ تاسو پهٔ ايپلي کيشن کښې متن هم لټولے شئ ◈ د سرچ نور ښه کولو د پاره پهٔ دې کښې د اُردو کي بورډ سهولت هم موجود دے د پاره د دې چې پهٔ ايپلي کيشن کښې پهٔ لټون کښې اساني وي-

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

# يو څو ضروري اِعلانات

◈ د **مُحَرَّم شریف** د مَدَني مذاکرو لړۍ جاري ده کومه چې به اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیْم! د **11 مُحَرَّم شریف** پورې جاري وي ، دا مدني مذاکرې به روزانه د شپې پاؤ کم لس 9:45 بجې پهٔ مدني چینل نیغ پهٔ نیغه ښودلے کیږي، ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې پهٔ دې مَدَني مذاکرو کښې ځپله هم شرکت اوکړي او نورو له دې هم دعوت ورکړي ◈ شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت هره هفته د یوې دیني رسالې لوستلو ترغیب ورکوي، پهٔ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله **د اهلِ بیتو** رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم **فضیلتونه** اعلان کولے شي- دا رساله ځپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ او څوک چې سوشل میډیا مثلاً واټس ایپ وغیره استعمالوي هغوئې دې د **اللّٰہ** پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شیئر کړي! ◈ مکـتبة الـمدینه د سلطان کربلا، سید الشُهداء، اِمامِ عالي مقام، حضرت اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ سِیرت، فضیلتونو او کراماتو باندې مشتمله یوه زبردسته رساله **اِمامِ حُسَین** رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ **کی کرامات** چاپ کړې ده، دغه شان یې د اِیمان د حفاظت او پهٔ دې باندې د اِستقامت متعلق واقعاتو باندې مشتمله رساله **حُسینی دولہا** هم چاپ کړې ده- رساله: **اِمامِ حُسَین** رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ **کی کرامات، پهٔ 30 روپی** او رساله: **حُسینی دولہا پهٔ 20** د مکـتبة الـمدینه د یوې څانګې نه پهٔ بیعه واخلئ-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د مُحَرَّم شریف د قافلو ترغیب

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** پهٔ عالمي سطح د کربلا د شهیدانو او د اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ

عَنْہُ پهٔ خِدمت کښې د ثواب نذرانه کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي والا د **اللّٰه** پاک پهٔ لاره کښې سفر کوي او د نیکۍ دعوت عام کوي، عِلمِ دِین زده کوي او ښائي- د هر کال پهٔ شان به پهٔ سږني کال کښې هم پهٔ **8، 9، 10 مُحَرَّم شریف کال 1448 هجری** د کربلا د شهیدانو د اِیصالِ ثواب دپاره قافلې سفر کوي- تاسو هم د دریو ورځو پهٔ قافله کښې د سفر نیت اوکړئ- **اللّٰه** پاک دې د عمل کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِیْن بِجَاہِ خاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د فیضانِ صحابه او فیضانِ اهلِ بیت د اجتماعاتو دعوت

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دعوتِ اسلامي د صحابه کرامو او اهلِ بیت سره د محبت کوونکو دیني تنظیم دے، **د مُحَرَّم شریف په اولنو 10 ورځو کښې به په یو سي سطح باندې د صحابه کرامو او اهلِ بیت** رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم **د ذکرِ خیر اجتماعات کیږي**، تاسو ته عرض دے چې په خپله یو سي کښې کیدونکو اجتماعاتو کښې او بالخصوص ستاسو په ځائے کښې کیدونکې د **10 مُحَرَّم شریف** په **اجتماعِ عاشوراء** کښې ېخپله هم شرکت وکړئ او نورو ته هم د دې دعوت ورکړئ- **اللّٰه** پاک دې مونږ ټولو ته د عمل کولو توفیق راکړي- اٰمِیْن بِجَاہِ خاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بیان پهٔ اخره کښې د عاشورې (یعني د 10 مُحَرَّم شریف) پهٔ باره کښې د یو څو آدابو د بیانولو سعادت حاصلووم-

# پۀ عاشوره (10 مُحَرَّم شريف) د ورځې او د شپې د کولو کارونه

**د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے** صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** زما پۀ **اللّٰه** پاک باندې ګمان دے چې د عاشورې (يعني د 10 **مُحَرَّم شريف**) روژه د يو کال مخکښنې ګناهونه ختموي۔ [1]

**د عاشورې د شپې عمل:** علمائے کرام فرمائي: د عاشورې پۀ شپه (د 9 او د 10 **مُحَرَّم شريف** پۀ ترمينځه شپه) کښې 4 رکعه نفل داسې ادا کړئ چې پۀ هر رکعت کښې د **سُورۀ فاتحه** نه پس **آيةُ الکُرسي** يو ځل او **سُورۀ اِخلاص** درې درې کرته ولولئ، بيا چې کله د نمونځ نه فارغ شئ نو 100 کرته **سُورۀ اِخلاص** ولولئ۔ د دې پۀ برکت به د ګناهونو نه پاکوالے درنصيب شي او پۀ جَنَّت کښې به مو ډېر نعمتونه نصيب شي۔ [2]

◈ **د عاشورې يو څو اعمال:** ◈ **روژه نيول:** پۀ دې ورځ پۀ خاص توګه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پخپله هم روژه ونيوله او د روژې د نيولو حُکم يې هم اِرشاد کړو۔ [3] او ورسره يې د 9 يا د 11 **مُحَرَّم شريف** د روژې د مېلاوهلو حکم اِرشاد کړو۔ [4]

◈ **د رزق د پراخه کېدو نُسخه:** د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې پۀ 10 **مُحَرَّم شريف** پۀ خپلو بچو باندې پۀ خرچ کولو کښې پراختيا

---

1 … مسلم، کتاب الصيام، باب فضل استحباب صيام ...الخ، صفحه:423، حديث:1162۔

2 … جنتی زيور، صفحه:157بتغير۔

3 … بخاری، کتاب الصوم، باب صيام يوم عاشوراء، صفحه:524، حديث: 2004 ملتقطاً۔

4 … مسند امام احمد، جلد:2، صفحه:100، حديث:2191۔

اوکړي نو **الله** پاک به تړول کال هغهٔ ته پراختیا ورکړي- حضرت سفیان ثوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: مونږ چې پهٔ دې حدیث باندې تجربه اوکړه نو هم داسې مو وموندلو- [1] ◈ **د عاشورې د ورځې نورې 10 نیکئ:** (1): صدقه کول (2): نفل نـمونځ کول (3): زر [1000] کرته **سورۀ اخلاص** لوستل (4): د علمائے کرامو زیارت کول (5): د یتیمانو پهٔ سر باندې لاس راښکل (6): غسل کول (7): رانجه پورې کول (8): نوکان کټ کول (9): د مریضانو تپوس کول (10): روغه جوړه کول- [2] ◈ **د کربلا د شهیدانو د پاره اِیصالِ ثواب کول:** د اِمامِ عالي مقام، حضرت اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ او د هغوئي سره د دِینِ اِسلام د سر لوړي د پاره د شهید شوو د ایصالِ ثواب د پاره د قرآنِ پاک ختم، د ذِکر او درود او د نذر او نیاز هم انتظام کوئ که کېدے شي نو پهٔ قافلو کښې سفر اوکړئ او د مکـتبة الـمدینه نه مختلفې رسالې حاصلې کړئ او هغه تقسیمې کړئ-

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدینه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

---

[1] ... مشکوٰۃ المصابیح، کتاب الزکاۃ، جلد: 1، صفحه: 365، حدیث: 1926 ۔

[2] ... جنتی زیور، صفحه: 157 ملخصاً۔

سنتیں سیکھنے تین دن کے لیے
رب کے در پر جھکیں، اِلتجائیں کریں
ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو
بابِ رحمت کھلیں، قافلے میں چلو [1]

اللّٰه پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِیْن بِجَاہِ خاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاک او (2) دُعاګانې

## ﴾1﴿ د شَبِ جُمعې [یعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِکْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ
الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحْبِہٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چې څوک هره شَبِ جُمعه (یعنې د جُمُعې او زیارت پهٔ مینځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شریف پهٔ پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ پهٔ وخت کښې د مَدَني آقا صلَّی اللّٰہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم دِیدار کوي او قَبر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې مَدَني آقا صلَّی اللّٰہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم به هغه قَبر ته د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.

---

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه:671670 ملتقطًا۔

(1) راځئ چې مونږ هم په شريکه دا دُرُود ووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

د حضرتِ سَیِّدُنا انَس رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې مَدَني تاجدار صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم فرمائيلي دي: څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي که ولاړ وي نو د کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وي نو د ودريدلو نه مخکښې به د هغهٔ ګُناهونه مُعاف کړے شي. (2) راځئ چې مونږ هم په شريکه دا دُرُود ووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي په هغهٔ به د رَحمت اويا دروازې برسيره کړے شي. (3) راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه ووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْکِ اللّٰہِ

حضرت اَحمَد صَاوِی رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: د دې دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو (6) لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي. (4) راځئ چې په

---

1... اَفْضَلُ الصَّلاۃ، صفحه:151، خلاصةً۔

2... اَفْضَلُ الصَّلاۃ، صفحه:65۔

3... قَوْلُ البَدِیْع، باب ثانی، صفحه:277۔

4... اَفْضَلُ الصلاۃ، صفحه:149۔

شریکه یې ووائیو.

### ﴿5﴾ د خوږ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم قُرب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَ تَرضٰی لَهٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْه تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم حیران شو چې دا څوک اوچتې مرتبې والا دے! چې کله هغه لاړو نو حضور صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاک لوَلي نو داسې یې لوَلي. (1) راځئ چې مونږ یې هُم په شریکه ووائیو.

### ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّ اَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوک چې داسې دُرود شریف ولوَلي، د هغهٔ د پاره زما شفاعت واجب شي. (2) راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه ووائیو.

### ﴿1﴾ د یو زر [1000] ورځو نیکۍ:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

د حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُما نه رِوایت دے چې مَدَني آقا صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے د یو زر [1000] ورځو پورې نیکۍ لیکي. (3) راځئ

---

1...قَوْلُ البَدِیْع، باب اَوّل، صفحه:125۔

2...الترغیب والترہیب، کِتَابُ الذِّکر والدُّعَا، جلد:2، صفحه:329، حدیث:30۔

3...مَجْمَعُ الزَّوَائِد، کِتَابُ الْاَدْعِیَه، جلد:10، صفحه:254، حدیث:17305۔

چې مونږ يې هُم پۀ شریکه ووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر يې چې حاصل کړو

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ علیہ واٰلہٖ وسلّم فرمان مبارک دے: چا چې دا دُعا درې ځله ولوستله نو لکه هغۀ چې شبِ قدر حاصل کړو۔ [1] راځئ چې مونږ هُم دا دُعا پۀ شریکه ووائيو۔

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِیْمُ الْکَرِیْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم

(د حِلم او کرم کوونکي **اللّٰه** پاک نه علاوه هیڅوک د عبادت لائق نشته، **اللّٰه** پاک دے، د اووۀ اسمانونو او د عظمت والا عرش **رَبّ**)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

1...تاریخ ابنِ عساکر، 155/19، حدیث:4415